مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۶/۱۱/۲۰

غلام نبي خان چرخي

د غلام نبي خان چرخي په باره کي دا ليکنه ځکه کوم چي محترم محمدداوود مومند مستقيماً زما ځخه دا پوښتنه کړې ده چي غلام نبی خان چرخي ته، پر افغانستان باندي د شوروي قواوو په ملاتړ حملې له امله، ملی خاين ويلای سو کنه؟

لومړی بايد ووايم چي زه د دومره لوی حکم د کولو صلاحيت نه لرم. دوهم دا چي زه پخپله د خاين کلمه، او په تېره بيا د ملي خاين کلمه يو ځه درنه بولم نوځکه يې په استعمالولوکي له احتياط ځخه کار اخلم. که ځه هم چي پر مزارشريف او تاشقرغان باندي د شوروي د سرو قواوو او« کي جی بي» يا په افغانستان کي د هغه وخت د « ګي پي او» د استازي ژرژ سرګيويچ آقابکوف په ملاتړ حمله کول په هيڅ صورت نه دفاع کيږي او په هر صورت د افغانستان په تاريخ کي يو محکوم عمل دی.
غلام نبي خان چرخي د سپه سالار غلام حيدرخان يوسفزي زوی وو(امير عبدالرحمن خان د غلام حيدرخان په نوم دري تنه نور جنرالان هم درلودل – جنرال غلام حيدرخان وردګ، جنرال غلام حيدرخان اورکزی او جنرال غلام حيدر خان توخی). غلام نبی خان د امير حبيب الله په پوځيانو کي يو زړه ور افسر وو او د اعليحضرت امان الله خان په زمانه کي خصوصاً هغه وخت ډېر مهم سو چي د خوست د بغاوت په ځپلو کي يې توره وکړه او د هغه خدمت په بدل کي د سمت جنوبي د رييس تنظيمه په حيث وټاکل سو.

دا وخت چي امان الله خان د بچه سقاو د قواوو په مقابل کي ماته کړې اوکندهار ته خوځېدلی وو او هلته يې کوښښ کاوه چي، د درانې قبايلو په مرسته، بيرته کابل ونيسي، غلام نبي خان په ماسکو کي د افغانستان سفير وو. غلام نبي خان کوښښ کاوه چي د امان الله خان د بيرته پاڅا کولو لپاره له شوروي اتحاد ځخه پوځي مرسته ترلاسه کړي.

د ختيځ لپاره د « ګی پي او» د سياسي اداري عمومي رييس او په افغانستان کي د شوروي اتحاد په سفارت کي پخوانی مامور آقابکوف په دې عقيده وو چي جبيب الله کلکاني د زحمتکښانو له طبقې ځخه دی. شوروي اتحاد بايد له هغه سره دوستانه اړيکي ټينګ کړي او مرستي ورسره وکړي. آقابکوف په دې عقيده ووچي امان الله خان په خپل هيواد کي بدنامه سوی او پرزېدلی دی او نور د شوروي په درد نه خوري نو بايد چي د هغه له ملاتړ ځخه لاس واخيستل سي. پروفيسر ولاديميربويکو. دولت و اپوزيسيون در افغانستان ص ۱۸۲

پخپله آقابکوف په خپلو خاطراتو کي ليکي چي خارجه وزارت او د کمونيستې ګوند سياسي دفتر په دې عقيده وو چي له امان الله خان سره بايد مرسته وسي او که امکان ولری بيرته د کابل تخت ور ورسپارل سي. . . . آقابکوف ليکي چي ګي پي او بالآخره فيصله وکړه چي د کمونيستې ګوند د سياسي دفتر هدايتونه عملي کړي او د افغانستان د وضع د څېړلو او روښانولو لپاره، د امان الله خان د فعاليتونو مرکز ته يو استازی ولېږي. دغه استازی بايد په قبايلو کي د امان الله خان محبوبيت وڅېړي او ضمنن د کندهار او هندوستان ترمنځ يوه جاسوسي شبکه فعاله کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

آقابکوف لیکي چې دا وظیفه ماته راوسپارله سوه؛ خو موږ ته اطلاع ورسېده چې د هرات ټول ولایت د بچه سقاو لاسته ورغلی دی او د هرات او کندهار ترمنځ لاره ټرله سوې ده نو زه په ماسکو کي پاته سوم. خاطرات آقابکوف ص ۲۰۳

شوروي محقق ولادیمیر بویکو لیکي چې شوروي حکومت هم له امان الله خان سره بې مقصده پوځي مرستي نه کولې بلکه په عوض کي يې پنبه، څرمني، وړې او نور ازربښتمنده شیان ورڅخه غوښتل. دولت و اپو زیسیون ص ۱۷۹

څرنګه چې پر افغانستان باندې، د شوروي قواوو په ملاتړ، د سپه سالار غلام نبي خان چرخي په پوځي عملیاتو کي په افغانستان کي د شوروي د کي جي بي پخواني استازي ژرژ سرګیویچ آقابکف پخپله برخه درلوده نو لازمه ده چې د دغو پوځي عملیاتو په باره کي د هغه خاطراتو ته توجه وکړو. آقابکف لیکي:

« د سیاسي دفتر په هغه غونډه کي چې د ستالین، غلام نبي خان او په افغانستان کي د شوروي نظامي آتشه پریماکوف په ګډون جوړه سوې وه فیصله وسوه چې د سره پوځ د عسکرو یوه ډله دي، په افغاني یونیوفورم کي، د پریماکوف تر قوماندي، افغانستان ته رهي سي. دوی باید په مخفي شکل د افغانستان له پولې څخه تېر سي او د کابل پر لور دي حرکت وکړي او د دې لپاره چې له ستونزوسره مخامخ نه سي باید چې د دې قوې ظاهري قوماندې د غلام نبي خان په لاس کي وي تر څو د افغانستان په شمال کي له خپل نفوذ څخه ګټه واخلي.

څو هفتې وروسته دا برنامه په دې ترتیب عملي سوه:
یوه ورځ سهار د سرحدي ښار ترمز خلک شاهد ول چې د شوروي الوتکو د آمو د سیند له غاړې څخه د پاتا ګیسار په نوم سرحدي پوستې څخه پرواز وکړ او کله چې د افغانستان سرحدي ساتونکي الوتکو ته متوجه سول نو الوتکو هغوی ټول په ماشین ګنو وویشتل او ټول يې ووژل. او له دې سره سم د ماهرو عسکرو یوې ۸۰۰ کسیزې قطعې چې په تاشکند کي روزل سوي وه او له ټولو سره ماشیندار ورسره وه له څو توپونو سره د مزار شریف پر لور حرکت وکړ. دې قطعې د افغانی عسکرو څو ډلګی، چې مخي ته يې ورغلې ټول د ماشیندار او توپونو خوراک کړل.

د مزار شریف په شاوخوا کي د هغوی په مقابل کي مقاومتونه وسول او سمدستي خنثی کړه سول. او د سره پوځ عسکرو، چې افغاني جامې يې په تن کي وې، ډېر ژر د مزار شریف ښار ونیوی. له سرحد څخه چې عملیات پیل سول بیا د مزار شریف تر نیولو پورې د افغانانو تلفات ۲۰۰۰ تنه اټکل کیږي.
د بچه سقاو مجاهدینو، چې زیاتره د ترکمن او بخارا مهاجرین ول، د مزراشریف په ختیځ کي سره راغونډ سول څو د غلام نبي خان د قواوو مخه ونیسی. غلام نبي خان هم د مزار شریف او شاوخوا خلک راغونډ کړل او د سره پوځ له عسکرو سره د تاشقرغان پر لور رهي سو.

د تاشقرغان سره نیژدې دواړو قواوو نښته وکړه او تر شپږ ساعته جګړې وروسته د بچه سقاو عسکرو ماته وکړه. ۳۰۰۰ تنه يې ووژل سول او نور يې وتښتېدل. په نتیجه کي زموږ او د غلام نبي خان قواوو د تاشقرغان ښار په ډېره آسانی ونیوی او د خان آباد پر لور مو حرکت پیل کړ» خاطرات آقابکف ص ص ۲۰۴-۲۰۵

آقابکف لیکي چې د دغو پوځي عملیاتو په ترڅ کي موږ ته اطلاع ورسېده چې امان الله خان د بچه سقاو په مقابل کي له مقاوته لاس اخیستی او له کندهار څخه هند ته تښتېدلی دی. موږ هم عقب نشینی وکړه او دري ورځي وروسته مو ټول عسکر بیرته د شوروی په خاوره کي ځای پر ځای سول.
آقابکف وایی د شوروي قواوو د عقب نشینی بل دلیل دا وو چې ټوله نړۍ د شوروي په دې عملیاتو خبره سوې وه او حتی زموږ دوستو هیوادونو هم له دې مداخلې سره موافقه نه درلوده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په نتيجه کي ويلای سو چي د پردیو قواوو او هغه هم د شوروي اتحاد په څېر يوه غليم هيواد د عسکرو، الوتکو، توپونو او ماشيندارانو په وسيله پر خپله خاوره باندي يرغل کول او شاوخوا ۶۰۰۰ پوځي او ملکي کسان قتلول که خيانت نه وي نو لږترلږه داسي شرير او د غندني وړ عمل دی چي په هيڅ توګه توجيه کېدلای نه سي. غلام نبي خان که هر څومره زړه ور عسکر وو. که هر څومره تکړه سپه سالار وو. که يې له امان خان سره هر څومره ژوره مينه درلوده. دا وروستی عمل يې په هيڅ توګه دفاع کېدلای نه سي.

تاريخ بايد په هيڅ توګه د خپلو احساساتو قرباني نه کړو. د يوه مورخ تر ټولو غوره او مهم خصلت دا دی چي حقايق لکه څرنګه چي دي هغسي بيان کړي. مورخ بايد په دې پوه وي چي هر څه ليکي خلک به د ده په ژوند او يا له مرګه وروسته پر هغه باندي قضاوت کوي. مرحوم غبار،چي« افغانستان در مسير تاريخ» کتاب ته يې زمور افغانان د مقدس متن په سترګه ګوري، د حقيقت ويلو اصل رعايت کړی نه دی. غبار نه سو کولای چي د افغانستان په شمال کي د غلام نبي خان پر دغو پوځي عملياتو سترګي پټي کړي نو داسي اشاره يې ورته کړې ده چي ګواکي د غلام نبي خان په هغو پوځي عملياتو کي شوروي قواوو له سره برخه نه درلوده. هغه په لوی لاس حقيقت پټ کړی او په دې توګه يې يې خپل ټول کتاب تر سوال لاندي راوستلی دی. مرحوم غبار ليکي چي کله هرات د عبدالرحيم خان لاسته ولوېدی نو د هرات نايب الحکومه د ايران له لاري اروپا ته ولاړی. وروسته ليکي:
« اما په عوض کي، په شوروي کي د افغانستان سفير غلام نبی خان چرخي له څو سوو هزاره او ترکمنو عسکرو سره د آمو د سيند له پوري غاړي څخه افغانستان ته داخل سو او تر دولت آباد پوري مخ ته ولاړ. سقاوي عسکرو د هغه په مقابل کي په دفاع لاس پوري کړ او د ۱۳۰۹ کال د حمل په مياشت کي يې د خواجه ولي په سيمه کي ډېره سخته ماته وخوړه. غلام نبي خان د ثور د مياشتی پر دوهمه، له يوې سختي جګړې څخه وروسته، د مزار ښار اشغال کړ. مګر لږ وروسته، د سقوي حکومت رييس تنظيمه له ايبک او تاشقرغان څخه ۲۰۰۰ زره عسکر راغونډ کړل او د مزار شريف پر ښار يې حمله وکړه مګر ماته يې وکړه. سره له هغه هم د سقاو طرفدارانو د مزار پر ښار باندي دلته هلته حملو ته دوام ورکړ. غلام نبي خان د ثور پر اتمه د سقاويانو د شيرآباد عسکري قشله ونيوله. او يوه ورځ وروسته يې د توپ او الوتکو د حملې په وسيله قلعه جنګي ونيوله. (غبار دا نه وايي چي غلام نبي خان په دونه لږه موده کي توپونه او الوتکي له کومه کړي؟؟؟» په تاشقرغان کي د سقويانو وروستی مقاومت هم مات سو او د بلخ ټول ولايت د غلام نبي خان قواوو ته په لاس ورغی. سقاوي حکومت خپل د دفاع وزير سيد حسين ته امر وکړ چي د خپلو څلورو زرو عسکرو سره د بلخ پر ولايت باندي حمله وکړي. د غلام نبي خان قواوو دې پوځ ته هم په ايبک کي ماته ورکړه اوعسکر وتښتېدل او سيد حسين هم د قطغن ولايت ته وتښتېدی. تر دغه وخته پوري شاه امان الله له کندهاره د کابل پر لور حرکت کړی او تر غزني پوري رسېدلی وو خو کله چي يې په غزني کي د سقاويانو او سليمان خيلو د قواوو په مقابل کي مغلوب سو او له افغانستانه خارج سو نو خارجه وزيرغلام صديق خان چرخي خپل ورور غلام نبي خان ته، له افغانستان څخه د امان الله خان د وتلو په باره کي، ټلګرافي اطلاع ورکړه او غلام نبي خان هم، په داسي حال کي چي فاتح وو، د آمو له سينده واوښت او له افغانستان څخه خارج سو. هغه په خپل دې حرکت سره وښودله چي يوازي غواړي د امان الله خان خدمت وکړي ځکه يې خپل هيواد د بنورښيانو لاسته پرېښود او له وطنه خارج سو» افغانستان در مسير تاريخ چاپ اول ص ۸۳۱

سړی چي د مرحوم غبار د کتاب دغه يوه پاڼه لولي نو سوال ورته پيدا کيږي چي هغه ولي دونه حقيقتونه په لوی لاس پټ کړي او حتی مخامخ يې دروغ ويلو ته ملاتړلی ده. غبار وايي چي غلام نبي خان څو سوه هزاره او ترکمن عسکر د حمل د مياشتي په پای کي راغونډ کړل. د هغه ټولو پوځي عملياتو څه کم يوه مياشت دوا کړی دی. دی خپل لوستونکو ته څرنګه دا قناعت ورکولای سي چي د غلام نبي خان څو سوو عسکرو يو ځل د سقاويانو ۲۰۰۰ کسيز او بل ځل ۴۰۰۰ کسيز پوځ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ته داسي ماته ورکړي ده چې عسکر او قوماندان يې دواړه له ميدانه تبنتبدلي دي. دا خو لا پرپرده چې په دې دونه لږ وخت کې يې بمب غورغوځونکي الوتکي لا هم پيدا کړي دي. غبار ته به يې څه تاوان کړی وای چې د شوروي د قواوو نوم يې اخيستی او حقيقت يې پټ کړی نه وای؟

که چيري، فرض محال، د غلام نبي خان هغه پوځي عمليات بريالي سوي وای. او بياهم، فرض محال، قدرت يې امان الله خان ته پرې ايښی وای، نو بيا به افغانستان څه باندې سل کاله وړاندې د بخارا او سمرقند په څېر د شوروي اتحاد مستعمره وای. شورويان د امان الله خان له غمه مړه نه وه چې خپل عسکر به يې د هغه لپاره وژل. پيسې به يې لګولې.؟ بين المللي بدنامۍ ته به يې ځان ورکاوه او کله چې امان الله خان د کابل تخت بيرته ترلاسه کړی وای نو دوی به په خپله مخه تللای. برعکس، که امان الله خان د شوروي د قواوو په زور کابل نيولی وای نو بيا به هغه پخوانی شاه امان الله نه بلکه د شوروي لاس کښېنولی او فرمان وړونکی مامور وای.



[په افغان جرمن آنلاين پورتال کې د جهانې صاحب آرشيف]

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ